حرمين

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

دَفْنُ المَوتَى فِي المَسَاجِدِ | بشتو | پښتو

# په جوماتونو کې د مړو ښخول

ليکنه قدرمند شيخ صاحب
عبدالعزيز بن عبد الله بن باز

# دَفْنُ المَوتَى فِي المَسَاجِدِ

# په جوماتونو کې د مړو ښخول

لِسَمَاحَةِ الشَّيْخِ العَلَّامَةِ
عَبْدِ العَزِيزِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ بَازٍ
رَحِمَهُ اللهُ

ليکنه قدرمند شيخ صاحب
عبد العزيز بن عبد الله بن باز

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحمَنِ الرَّحِيمِ

## يوولسم پيغام:
## په جوماتونو کې د مړو ښخول

بسم الله والحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومَن والاه، أما بعد:

ما د "الخرطوم" د ورځپاڼې هغه ګڼه چې په (۱۴۱۵/۴/۱۷هـ) نېټه خپره شوې ولوسته، نو پام مې شو چې په ورځپاڼه کې د سيد محمد حسن الِادريسي د ښخولو په اړه بيان خپور شوی و چې هغه په ام درمان کې د خپل پلار تر څنګ په جومات کې ښخ شوی دی ... بيان تر پای

دا چې د الله جل جلاله له خوا د مسلمانانو لپاره نصيحت کول او د منکر (ناروا عمل) ردول واجب دي، نو ما وپتېيله چې دې مسألې ته د خلکو پام راواړوم چې په جوماتونو کې د مړو خښول روا نه دي، بلکې دا د شرک له اسبابو څخه يو سبب او د يهودو او نصاراوو له هغو اعمالو څخه يو دی چې الله تعالی پرې هغوی غندلي او رسول صلی الله عليه وسلم پرې لعنت ويلی دی، لکه په صحيحينو؛ بخاري او مسلم کې چې له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«لَعَنَ اللّٰهُ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى، اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ»،

ژباړه: «الله پر يهودو او نصاراوو لعنت کړی چې د خپلو

نبيانو قبرونه يې جوماتونه ګرځولي و». همدارنګه په صحيح مسلم کې د جندب بن عبدالله څخه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

«أَلَا وَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ، أَلَا فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ؛ فَإِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ».

ژباړه: «خبردار اوسئ! چې ستاسو څخه مخکې خلکو د خپلو انبياوو او نېکانو له قبرونو څخه جوماتونه جوړ کړي وو، نو پام وکړئ چې تاسو يې جوماتونه ونه ګرځوئ، زه تاسو لدې کار څخه منع کوم». په دې معنا کې نور احاديث هم شته.

نو په هر ځای کې د مسلمانانو پر حکومتونو او ولسونو واجب دي چې: له الله تعالی څخه وويرېږي، او له هغو عملونو ځان وساتي چې الله ترې منع کړې او دا چې خپل مړي له جوماتونو څخه د باندې ښخ کړي، لکه څنګه چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- او د هغه صحابه کرامو رضي الله عنهم مړي له جوماتو نه د باندې ښښول، او همداسې يې په نيکۍ کې نورو پيروانو هم کړي دي.

او پاتې شوه د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه د صاحبينو د قبرونو خبره چې د هغه د جومات دننه دي، نو پدې کې د جوماتونو دننه د مړو د ښښولو لپاره هيڅ جواز نشته؛

ځکه چې نبي صلی الله علیه وسلم په خپل کور کې (د عائشې رضي الله عنها په کوټه کې) ښخ شوی و، چې وروسته یې ملګري هم ورسره هملته خښ شول، نو کله چې ولید بن عبدالمالک جومات ته پراخوالی ورکړ، نو د لومړۍ هجري پېړۍ په سر کې یې د عائشې رضي الله عنها کوټه په جومات کې داخل کړه، حال دا چې هغه مهال یې علماوو دا عمل وغانده، خو هغه ته مناسب ښکاره شوه چې قبرونه باید د جومات د پراخوالي پر وړاندې خنډ ونه ګرځي، او دا چې دا خو یوه ښکاره چاره ده او هیڅوک پکې نه غلطېږي.

او پدې سره هر مسلمان ته جوتیږي چې هغه صلی الله علیه وسلم او دواړه ملګري یې رضي الله عنهما په لومړي سر کې په جومات کې نه دي ښخ شوي، او دا چې جومات ته د پراختیا ورکولو له امله یې قبرونه په جومات کې دننه راغلي دي نو پدې کې د دې مسألې لپاره هیڅ جواز نشته چې مړي په جوماتونو کې خښ شي؛ ځکه چې هغوی په جومات کې دننه نه دي، بلکې هغه علیه الصلاة والسلام په خپل کور کې دی، بل دا چې د ولید دا کړنه د هیچا لپاره دلیل نه شي جوړیدلی، بلکې حجت په قرآن، سنت او د دې امت د سلفو -رضي الله عنهم-په اجماع کې دی، الله تعالی دې موږ په نیکۍ کې د هغوی له پیروانو څخه وګرځوي.

د نصیحت او غاړې خلاصولو لپاره دا متن په ۱۴۱۵/۵/۱۴هـ کې لیکل شوی.

الله توفیق ورکوونکی دی.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد، وآله وصحبه، وأتباعهم بإحسان.

***

ps٣٩٧v ٤,٠- ٢٠٢٦/٠٨/١٧

حرمين

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# رسالة الحرمين

# Message of The Two Holy Mosques

Guidance content for the visitors of the Holy Mosque and the Prophet's Mosque in languages.